مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۰۸/۱۱

یو سهار...

یو سهار چې ته راپاڅې
او هینداري ته و ګورې
نو د ځان په شان یو څوک به درته موسک وي
یو ناڅاپه به دې سترګو لاندې پام شي
چې حلقه، حلقه لوېدلي
نوې ګونځې سترغلو لاندې پیدا وي
یو سهار چې ته راپاڅې
او هینداري ته وګورې
لږ څه نور هم ځان ته ځیر شي
په ویښتو کې به دې سپین دومره ډېر وینې
چې باور پر خپلو سترګو به دې نه شي
نو بیګاه خو داسې نه و؟
دا پرون مې په هینداره کې چې ځان کوت
په ویښتو کې مې د تورو شمېر لا زیات و...؟!
یو سهار چې ته راپاڅې
د هینداري دروغجنې له کتو به دې زړه تور شي
ژر به لاس کړې او عینکې به راواخلې
چې لږ ځیر شې، ځان وګورې
نو ریښتیا هرڅه بدل وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له عینکو به دې هم زړه مرور شي

ټیلیفون پسې به ګرځې، چې "هغې" نه تپوس وکړې:

"اې!

ریښتیا زه یم همداسې؟"!

خو چې ګورې،

ټیلیفون کې به دې نوم د "هغې" نه وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ